﴿ ۶ ﴾

# د افغانستان د خلکو کالي

کالي د افغانستان لپاره يو طبيعي او محيطي ضرورت دی، له قديمي زمانې څخه په سړو سيمو کښې د يخې هوا ددفاع لپاره انسان اول د حيواناتو پوستونه او وړی او ژغوني استعمال کړيدي. په تودو سيمو کښې انسان له نباتاتو څخه نرمو او سپکو کاليوته اړ وُ نو ځکه په داسي سيمو کښې لکه افغانستان چې تاوده او ساړه ځايونه ډير لري دخلکو کالي هم سره بيل وه، مگر کميس او پرتوگ اوخولۍ داسې کالي دي چې دتاريخ په ټولو دورو کښې تر اوسه لاهم په دې مځکه عموميت لري. او داسي ښکاري چې دغه کالي د قديمو آريايي اقوامو څخه راپاتـه سوي ميراثونه دي. ولي چې تر ميلاد دمخه د پارتيانو او اشکانيانو کالي هم دغه کميس اوچين داره غټ پرتوگ او دوړ دوړ خولۍ وې، اوکله چې ساکا خلك لا د آمو په شمالي سيمو کي اوسېدل، نو د ۵۲۰ ق ، م پـه حدودو کښې د هخامنشي پادشاه دوي پخپلو ډيرو ليکونو کښې تيش خولي ياد کړيدي، او داسي ښکاري چې دغسي اوږدې اونوکداره خولۍ چې د تېش شکل ئې درلود له قديمه رواج وې او دغه تېشونه د استقلال تر جنگه پوري لا هم په کندهار کښې پر سر کېدل. چې وروسته دغه گنبدي خولۍ رواج سوې.



داسلام په ابتداء کښې دافغانستان دشرقي سيمو دخلکو کالي دتودې هواپه مناسبت د هنديانو کالوته ورته وه ، مگر په کابل او زابل او نورو سړو ځايوکښې هغسې کالي اغوستل کېده لکه دکوشانيانو او دهفتلانو د باچهانو په مجسمو اوشکلو کښې چې ليدل کيږي.

هيون تسنگ چيني زاير د ۹ ه په حدود کښې د افغانستان دشرقي سيمو لباس داسي شئي : چې د دوي لباس خاص برش نه لري، اکثر خلك سپين او پاك کالي خوښوي، له خورا ښايسته او رنگينو کالو څخه ئې ښه راځي نارينه يو کالي پر ملا راپېچي او بيا ئې تر تخرگ لاندې راټولوي او پر اوږه ئې اچوي، ښځې خورارت اواوږده کميسونه اغوندي چې اوږې ئې ټولې په پټي وي، او لمنې ئې له مځکې سره نښلي. نارينه خولۍ اودگلانو اميلونه او دغاړې شالونه هم استعمالوي. دوي له پنبې او وريښمو او کتان څخه خپل کالي جوړوي، او کله د اوزگرو له اژغنو څخه خورا نفيسي کمبلي جوړوي چې په چيني ئې کهن ـ پو ـ لو بللي دي. يو بل لباس هم له وحشي حيوان له وريښتانو څخه اوبي چې هو ـ لا ـ لي ئې بولي، په شمالي غرو کښې کالي لنډ او چسپ وي او بودائي زاهدان ارت لمنې او کميسونه اغوندي، د سپاهيانواو روحانيونو کالي ډير پاك او ساده او خوشنما دي بادشاه او وزيران ئې خورا مزين کالي اغوندي او کله وريښتان په گلانو ښايسته کوي. په جواهرو ښکلي خولۍ او بازو بندونه او وښي هم استعمالوي.

په ۱۰۹ ه يو بل چيني زايرهوي ـ تچه او باميان ته راغلی وُ، دی وايي چې ددې ځاي خلك دپنبې او پوستين او برکې کالي اغوندي او نخي کالي هم لري. د افغانستان په سړو سيمو کښې پشمي کالي، کوسي، پوستينونه او د کرك او برکي او بشروبې اقسام لـه قديمي زمـاني څخه

مستعمل ښکاري تر زنګنو پوري اوږده کميسونه چي لستوني او ګريوان ئې درلود او پراخ هم وُ، له يوه چين داره پرتوګه سره دخلکو عام لباس وُ، چي مشرانو اوسردارانو به يو راز کوچۍ يالنډ پوستين سربيره پر اغوست، او په تودو سيمو کښي به ئې کله يو راز پټو يا څادرهم پر اوږو ورسره واچاوه. او دغه ډول کالي د افغانستان دلوي پاچا کنشکا په مجسمه کښي ليدل کيږي چي دميلاد د ۱۲۵ کال په حدودو کښي رواج وه، کنشکا يو چين داره متوسط پرتوګ او اوږد کميس اغوستی دی، چي غاړه ئې يوې خواته ښکاري او سربيره ئې يوه پنډه تر زنګنو اوږده کوچۍ ښکاري او پر سينه باندي ئې يو ګلداره غوټه ده، چي دا کوچۍ په ترل کېده، لستوني ئې اوږده او بيا د لاس تر بنده پوري تنګ دي او چين لري چي مروند ښه پکښي ښکاري.

ددې عصر زنانه کالي خورا اوږده او پرک داره ارته لمن لري چي دښخي تول قامت وريټوي او دننګرهار د هډې له يوې پيداسوي مجسمې څخه داسي ښکاري چي کميس ئې داسي غاړه لري چي حاشيې ئې دګلانو خامکدوزي ده او پردې کميس باندي چرمي کمر بند هم تړل کېدی، دغسي درانه ارت کالي وروسته کرار کرار تنګيږي او هم نرمېږي، چي دايران د ساسانيانودلباسو اثر پکښي ښکاره کيږي اوپه ميلادي شپږم او اووم قرن کښي دافغاني شاهانولباس خورا تنګ او په بدن پوري نښتی دی، چي پر مسکوکاتو باندي دشاه کالي خورا تنګ دي، او يوه مجسمه چي د غوربند په قندقستان کښي پيدا سوېده شاه او ملکه دواړه په دغسي تنګو کالو کښي راښيي. نارينه وو يو راز پشمي خولۍ هم پر سرکولې، چي نمونې ئې تراوسه په نورستان او سوات کښي سته، دغسي خولۍ او کوچۍ خامکدوزي او نور تزئينات هم لري، او داسي



تزئينات داسلامي سنې تر لومړۍ پيړۍ پوري د ټولو شاهانو له اشکالو سره سته چي غوږ والي او زرين امېلونه او بازو بندونه او وښي لري، او پر تاج باندي هم سپوږمۍ او ستوري يا دغوبي مجسمه نقش کوي.

په اسلامي دوره کښي معتبره لباس تور وُ، او دمجمل التواريخ والقصص په قول ابومسلم خراساني لکه خپل نيکه شبډوس تور کالي اغوستي وو، او دنسا او باور د اومروالرود او تالقان خلکو هم دغسي تور کالي ورسره اغوستل، حال داچي بني اميه عربو زرغونه کالي او زرغونه بيرغونه درلودل، طبري وايي چي ابومسلم توره بګړۍ وتړله او توره چينه ئې واغوسته، نو نې وويل : چي تر تورو کالو نور هيبتناکه کالي نسته، او دا هغه وخت وُ چي ابو مسلم دمرو په سپېدنګ کښي په ۱۲۹ ه کال تور بيرغ ربولی وُ، او دغه تور کالي دعباسيانو په دربار کښی هم رسمي سول، او منصور عباسي خليفه امر وکی چي څوك دربار ته راځي نوبوه توره چينه به اغوندي، او داسي ښکاري چي ابو مسلم دغه تور کاني د قديمو زردشتي آريائيانو څخه زده کړي وه، ځکه چي په اوستا کښي د تورو کالو او تورو بيرغو پيشګويي سته.

د هجرت په څلورمه پيړۍ کښي دعربو مورخان اوجغرافياوال د خراسان دخلکو ذکر کوي، ابن حوقل وايي : چي د زابلستان د غلجيانو اودغور دسيمو کالي د تورکانو کالوته ورته دي، مګر دبست او د سيستان د خلکو لباسونه د عراقي کاليو په څېر دي، او ځکه چي په دغو سيمو کښي د کراستو جوړول تر اوسه لا هم رواج لري، نو کوسی يا کوچۍ د ژمي د بالاپوښ په ډول چي سپين يا سور رنګ ئې درلود استعمالېدل، او موږ دصفاريانو په زمانو کښي وينو چي ځيني مشاهير د لباده په لقب مشهور وو، ځکه چي دوی به کوسی يا کوچۍ اغوستل. لکه طبري چي

محمد بن کثير لباده په ۲۶۳ هـ ديعقوب ليث سره په دير العاقول کښې ذکر کوي، او تاريخ سيستان وايي : چې ليث بن علي د يعقوب وراره په سيستان کښې په "شېرلباده" مشهور و، دا ځکه چې ده دخپل جلوس په ورځ سور کوسی اغوستی و.

بشاري وايي : چې دافغانستان دجنوبي سيمو خلک تر مکرانه اوسنده اوږده وربښتان پرېږدي يعني ځوني او قرطق يعني کرتۍ اغوندي، غوړونه سوري کوي، او بېله سوداګرانو او مشايخو نور څادرونه لري، او د اصطخري په قول په سرو سيموکښې پرتوګ او په تودو سيمو کښې لنګ او کميس او چوغه هم اغوستل کېدل.

په شمالي ولاياتو کښې دهغه ځاي د اقليمه سره سم خلکو خولۍ او چېنې او کله کورتۍ هم استعمالولې، او دبلاذري په قول دکندهار په سيمو کښې خلکو اوږده تېشونه پر سرکول، چې تر ۴۴ هـ وروسته عباد بن زياد دغه سيمه ونيوله، نو ده هم دغسې جګه خولۍ پر سر کړه، او عربو دغه عباديه بلله.

د عباسيانو په وخت کښې منصور عباسي خليفه توره چېنه اواوږده خولۍ او يوه کرتۍ دخپلو کاردارانو لپاره رسمي لباس وګرځاوه، او دغه لباس د خراسان په کاردارانوکښې هم رواج وموندلو کله چې عربان خراسان ته راغلل نو دوی د خراساني کالو تقليد هم وکی چوخې، پرتوګونه، موزې او جرابې ئې واغوستلې چې عالمانو اوفقيهانو به تور پټکي او طيلسانونه اغوستله او کله به ئې جګې خولۍ هم پر سر کولې او ابن خلکان په قول دغه راز دعالمانو لباس لومړی پلا قاضي امام ابو يوسف د هارون الرشيد د دربار لوي قاضي واغوست. د عباسي دورې دخلکو عادي لباس ارت او پرتوګ اوکميس او کرتۍ اوقبا اوخولۍ او



وربښمين اوپشمي جرابې وې، چې دغه ئې په عربي موزج بللي، او عامو خلکو به پر لباس سربېره يو قمر بند هم تاره، او سپاهيانو به دوې موچنې په پښو کولې، چې دمسجد د راتللو پر وخت به ئې سربېرنې موچنې کښلې، او هغه ئې جرموق بللې، اوموږ وينو چې دغه درې کلمې له موزه ، کمر بند اوچرمك څخه عربي ته تللي دي، اوداښکاره کوي چې دغه نومونه عربو د خراسان له ژبو څخه عربي ته وړي دي. او دغه مطالب سيد امير علي دعربو په لنډ تاريخ کښې راوړيدي.

البشاري په احسن التقاليم کښې وايي : چې دخراسان په ښار او طوس، ابيورد، هرات کښې فقيهانو طيلسان پر عمامه سربېره اغوست، او دسيستان خلکو بګړيو ته جګې جوغې ورکولې، مګر د سپاهيانو د چوخو لستوڼي تنګ وه، او په مرو کښې به فقيهانو خپل طيلسانونه پر يوه اوږه اچول.

د مغولو اوتيموريان دعصر له تصويرونو څخه ښکاري چې خولۍ او بګړۍ او اوږده چوخه او تنګ پرتوګ عام لباس و، او پر چوخې سربېره به حتماً ملا په يوه رنګه ټوکر ترله، د قاهرې دکتابخانې د شريف صبري په مجموعه کښې د سعدي بوستان يوه ښکلې نسخه سته چې په هرات کښې بهزاد په ۸۹۳ هـ انځور کړېده له دغه تصويره او نورو هغه تصويرونو څخه چې دهرات په هنري مکتب کښې رسم سويدي داسې ښکاري چې نارينه وو حتماً سپينه يا رنګه نفيسه بګړۍ ترله، او خولۍ هم جګې وې، او پر نورو کالو سربېره به ئې ضرور يوه رنګه اوږده چپنه اغوسته چې لستوڼي به ئې اوږده اوارت وه، او کله به ئې يورنګه ټوکر پر غاړه باندې هم اچاوه، چې پر دواړو اوږو به را ځړېدی، او دښځو لباس هم رنګه نفيس تنګ پرتوګ او تر زنګنوپورې رنګه کميس او سربږ

خورا تنگه او په بدن پوري چسپه چوخه وه له نفيسه ټوکره ښځه چې ملا به ئې هم تينگه پر ترله او په دې سبب بـه اعضـاء ښـه او راوتلـي پکښې ښکارېدل، او عموماً به نازکي چرمي نفيسي موچني هـم ورسـره په پښوکېدې، او کله به رنگه جراپې وې، چي په هيڅ تصوير کښې پښې لڅي نه ښکاري.

په دغو نژدې پېړيو کښې دافغانستان دخلکو کـالي لـوي پرتـوگ او پراخ کميس او يوه سدرۍ او غټه بگړۍ او يو څادر وُ، چي په سرو ځايو کښې به ئې يوه گراتۍ يا چوخه هم ورسره اغوسته، په تودو ځايو کښـي موچني او په شمالي ولاياتو کښې ملاترلې او موزې په پښو خلك دبر وو. او کله به ئې د اوژغنو خولۍ پياق هم ورسره پر سروله.

خاصي طبقې او سردارانو بـه د کشـميري ابـري چپنـه اغوسـته او کشميري شال ئې هم تاره، مگر کميس او پرتوگ به کله رنگه او نفيس او کله به د سپين کرباس وُ، اودکميس گرېـوان او لسـتوني او د پرتاگـه پايڅې به ئې خامکدوزي يا بخني کول. مگـر غـټ پرتوگونـه او پـراخ کميسونه او جگې خولۍ داستقلال تر جنگه را وروسـته پـه کـوچني اوتنگ لنډ کميس او پيتو خوليو بدل سول. او هغه خرتي لـوبي بگـړۍ هم کوچنۍ سوې، مگر کميس او پرتوگ او بگـړۍ او دوپټـه يـا څـادر تراوسه هم د مملکت د اکثرو خلکو کالي دي. (۱)

(۱) کابل د ۱۳۵۳ لمريز کال د لېندۍ د مياشتي نهمه گڼه ۱ _ ۵ مخونه